له مثبت پیغام سره ادبیات ۳
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړې کیسې

ACKU

# نیمګړی ماشوم

رڼا زرمتی



ACKU

نیمګړی ماشوم

رڼا زرمتی

پرلەپسې شمېره: ۴۱۰

# A Child with a Disability


Rana Zormaty



"نیمګړی ماشـــوم ډېر کوچنی و، نوم یې نه درلود، د همدې لـپاره روزنتون ورته د صـــابر نوم خوښ کړ. دی هلته هغه یوازینی ماشوم و چې پښې یې نه درلودې. د وخت په تېرېدو سره صـــابر چې غټېده، خپل حالت ته یې خواشیني زیاتېدله."


توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension
Est. 1996

ISBN 978-9936-646-26-1
9 789936 646261




## ده کتاب برگزیده‌ی دومین جشنواره‌ی ادبی «توانا»

## د ادبي سیالۍ د دویم پړاو لس غوره شوي داستانونه



د لوی او ښښونکي خدای په نامه

۴

له مثبت پیغام سره ادبیات

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لهپاره ځانګړې کیسې




# نیمګړی ماشوم

رڼا زرمتی


- **انځورګر او د پښتي طرحه:** رستاقی او سحر
- **د پاڼو جوړونه:** رضا مرادی
- **د مخونو شمېر:** ۶۰
- **پرلهپسې شمېره:** ۴۱۰
- **کچه:** ۱۳.۵ × ۲۱ سانتي متره
- **چاپشمېر:** ۴۰۰۰ ټوکه
- **خپرونکی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)
- **لومړی چاپ:** ۱۳۹۸ل. (۲۰۲۰م) کابل – افغانستان
- **برېښنالیک(ایمیل):** publication@acku.edu.af
- **ویب پاڼه:** www.acku.edu.af
- **شابک:** ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۶-۲۶-۱

**د پښتو ژبې ارزوونکي: محمد انور وفا سمندر، صدیق‌الله بدر او ارش ننګیال.**

- تر نظر: د کاظم حمیدي رسا
- اجرایي شورا: عبدالوحید وفا، رشمي دانګل، فیض محمد نایاب-عطایي، بهار احمدي، عبدالستار اعظمي او محمد حامد نیازی.
- وېش: زینت‌الله قانت



- د چاپ حق خپرونکي لهپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه ګټه اخستل یوازې د ماخذ په یادولو سره مجاز دي.
- لیکوال د کتاب منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه کوي.

## یادونه:

د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري روزنې او ماشوم ادبیاتو د پیاوړتیا په هدف، د داستان‌لیکلو دویمه ادبي سیالي ترسره کړه.
د ادبي جشنوارې ادارې، په دري او پښتو ژبو داستاني اثار ترلاسه کړل. ورپسې ترلاسه شوي اثار تر ارزونې او څېړلو وروسته د ارزوونکې کمېټې له لوري غوره شول.
د اثارو په ارزونه او غوره کولو کې، د ارزوونکو دوو خپلواکو کمېټو په دوو پړاوونو کې، داستاني اثار وارزول. ټاکل شویو ادبي معیارونو ته په پام ، هر داستاني اثر ته امتیازونه ورکړل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د لا ډېر رڼښت او شفافیت په پار، فقط د دغې ادبي سیالۍ ترسره کېدو ته زمینه برابره کړې او د داستاني اثارو په ټاکلو کې یې کوم نقش نه‌درلود.

لس داستاني اثار(پنځه په پښتو ژبه او پنځه په دري ژبه) چې د «توانا» تنکي زلمي او ماشوم داستان ادبي جشنوارې په دویم دور کې غوره شول، د ادب برخې ایډیټرانو له لوري تر ادبي سمونو، رسامۍ، او پاڼه جوړولو وروسته، خپاره شوي دي.
په ټوله کې، د ادبي جشنوارې د دویم دور له‌پاره ټول غوره شوي کتابونه ۴۰ زره ټوکه چاپ او د هېواد په گوټ گوټ کې وېشل کېږي.

**د ادبي جشنوارې اداره**
**د توانا پروگرام ACKU**

# نیمگڕی ماشـــوم

رها زرمتی



# نیمگړې ماشـــــوم

د گاونـډي د کـور دروازه یـې پـه زوره ور وټکولـه.  دروازه لـه لـږ ځنـډ وروسـته خلاصـه شـوه: «حمیـدې خـورې څـه شـوي؟ خیریـت خـو بـه وي؟»

د حمیـدې چـې مـخ پـه خولـو لونـد خیشـت و او سـاه یـې لنـډه، لنـډه کېدلـه، د گاونـډي ښـځې تـه خپـل مبایـل ونیـو او ویـې ویـل: «زهـرا جانـې! خاونـد تـه مـې زنـگ ووهـه چـې کـور تـه راشي، زه هېـڅ ښـه نـه یمـه.»

هغـې حمیده تـر مـټ ونیوله او خپلـې کوټـې تـه یـې راوسـته. حمیـده وره تـه نـږدې پـر توشـکه کېناسـته. زهـرا پـه بېـړه بالښـت ورتـه کېښـود چـې ډډه ولگـوي. همـدا چـې حمیـدې تـه مخامـخ کېناسـته، پـه خنـدا یـې وویـل: «ښـه! اوس دې مبایـل راکـړه چـې خاونـد تـه دې زنـگ ووهـم.»

زهـرا پـه مبایـل کـې د شـاه محمـد شـمېره پیـدا کـړه او زنـگ یـې ورتـه

وواهـه. د زنـګ لـه تېرېـدو سره يې وويـل: «شـاه محمـد وروره! سـلام، زه زهـرا يمـه، ستاسـو ګاونـډۍ. حميـده لـږه ناروغـه ده، بايـد روغتـون تـه ورسـول شي.»

همـدا چـې هغـه ورتـه وويـل، ژر بـه را ورسـېږي، مبايـل يـې بنـد کـړ خــو چــې ويــې ليــدل د حميــدې حالــت شــېبه پــه شــېبه نــور هــم خرابېږي، سمدستي يې د (۱۰۲) شـمېرې تـه زنـګ وواهـه او ويـې ويـل: «امبولانـس تـه اړتيـا لـرو، هيلـه ده چـې د خوشـحاليو مېنـې د ګلانـو کوڅـې درېيـم کـور تـه يـې راولېـږئ.»

مبايـل يـې د تاخچـې پـر سر کېښـود او د حميـدې خواتـه راغلـه چـې لـه وره سره يـې نـږدې پـر ديـوال تکيـه کـړې وه او د هـرې شـېبې پـه تېرېـدو لـه درده تاوېـده.

ژر يې لـه هغـه ځايـه راپاڅولـه او د خپـل خـوب پـر تخـت يـې کېنولـه، بالښـت يـې ورتـه کېښـود او ويـې ويـل: «تـه لـږ وغځېـږه، سـودا مـه کـوه، اوس بـه امبولانـس را ورسـېږي.»

زهــرا غوښــتل لــه تخــت سره نــږدې کړکــۍ خلاصــه کــړي چــې د امبولانـس د (هيـو، هيـو، هيـو، هيـو) غـږ يـې واورېـد. پـه منـډه لاړه او د حويلـۍ دروازه يـې خلاصـه کـړه. دوه نارينـه او ښـځينه نرسان چـې شـنه کالي يې پـه غـاړه او شـنې خولـۍ يـې پـر سر وې لـه يـوې اوږدې تذکـرې سره لـه امبولانـس نـه را کښـته شـول.

هـول د زهـرا پـه لارښـوونه هغـې کوټـې تـه ننوتـل چـې حميـده پـه کـې وه. نرسـانو تذکـره پـر ځمکـه کېښـودله.

یوې نرسې د حمیدې تر تخرګو لاسونه تېر کړل، بلې نرسې بیا له دواړو پښو ونیوله او په تذکره کې یې په ارامه څملوله؛ نارینه نرسانو په بېړه تذکره را اوچته کړه او د امبولانس په خوا یې وځغاستل.

زهرا د خپل کور دروازه کلپ کړه او په امبولانس کې کښېناسته. خو ژر بېرته راښکته شوه او په بېړه کور ته ننوته. چې راووته، د حمیدې مبایل یې په لاس کې و.

تاسې به پوهېږئ کنه چې دننه په امبولانس کې یو ډاکټر هم وي. هغه د ناروغانو راپور په روغتون کې د هغوی اړوند ډاکټر ته ورکوي. دلته هم هماغسې یو ډاکټر و، هغه ورته ژر اکسیجن چالان کړ، په ګوته کې یې یو قیتک ورکړ چې په انګرېزۍ کې ورته (Finger pulse oximeter) وایي.



په هغې باندې یې د زړه ضربان معلوماوه. دې ډاکټر تر روغتونه پورې د حمیدې پالنه وکړه. کله چې روغتون ته ورسېدل نرسانو د امبولانس دروازه خلاصه کړه او ژر یې حمیده په تذکره کې کښېنوله کړه، یوې نرسې بیا سېروم په لاس کې نیولی و او ورپسې یې منډې وهلې؛ ډاکټر چې په لاره کې کومه دوسیه جوړه کړې وه، هغه یې د حمیدې اړوندې ډاکټرې ته وسپارله او کومې مرستې یې چې ورسره کړې وې، هغه یې هم ورته وویل.

دا خبرې له اړوند ډاکټر سره د ناروغ په علاج کې مرسته کوي چې په دې پوه شي چې ناروغ کومه ناروغي لري او څه ډول یې باید درملنه وشي.

کله چې اړوندې ډاکټرې د حمیدې دوسیه وکتله، ژر یې هغه د عملیاتو کوټې ته، چې د ژغورنې کوټه نومېده، ولېږله.

د ژغورنې د کوټې ور بند او سور ګروپ یې روښانه شو، زهرا له کوټې نه د باندې یوې او بلې خوا ته تله راتله او د سور ګروپ د مړ کېدو انتظار یې ایسته؛ ځکه تر هغه پورې چې سور ګروپ نه وای مړ شوی، ډاکټران د ژغورنې له کوټې څخه نه راوتل او نه هم د کوټې دروازه خلاصېدله او نه هم زهرا ته پته لګېده چې د حمیدې روغتیایي حالت څنګه دی.

زهرا د ژغورنې کوټې مخې ته ولاړه وه او خپل لاسونه یې مروړل چې یوه نرسه له څو پاڼو سره راووته او دې ته یې وویل: «دا د عملیاتو پاڼې دي که امضا نه لرې، ګوته ولګوه.» زهرا په چورت کې لاړه، غوښتل یې چې شاه محمد ته زنګ ووهي خو ډاکترې ورته وویل:


عملیات خانه

«چورتونه پرېږده، وخت نشته، ناروغه باید ژر عملیات شي، کنه...»
هغې زړه نازړه له نرسې نه قلم راواخیست او پاڼې یې امضا کړې.
نرسه چې بېرته عملیات خونې ته ننوته، دا په دعاګانو سر شوه: «ربه ته مهربانه یې، په خیر یې خلاصه کړې». هره یوه شېبه وروسته یې سره څراغ ته کتل چې وبه یې لیدل روښانه ده، مخ به یې بلې خواته واړاوه. زړه یې تنګ شو، غوښتل یې بیا دالېز ګز و پل کړي چې د حمیدې د مبایل زنګ اوچت شو. مبایل یې غوږ ته کړ: «شاه محمدهوروره ته یې... موږ روغتون ته راغلي یو، د بیا ژوند روغتون ته. حمیده اوس په دویم پوړ کې په عملیات خونه کې ده.»
هغې مبایل بند کړ او یوه ارامه ساه یې وکښله.
کرار کرار د ژغورنې کوټې له دالېز نه ووته او د روغتون د عمومي هال هغې کړکې ته ودرېده چې مخه یې د روغتون دروازې او عمومي سړک ته وه. ویې لیدل چې شاه محمد په خپل زوړ بایسکل پر وره رانننوت.
عملیات لږ وځنډېدل. زهرا تر روغتونه پورې ټوله کیسه شاه محمد ته وکړه. شاه محمد ورته وویل: «خورې زه ویلو ته داسې څه نه لرم چې په هغه درنه مننه وکړم.»
زهرا ورته کړه: «ما داسې څه نه دي کړي چې مننه وکړې، خو که نه خپه کېږې زه به کور ته لاړه شم؛ ماشومان به مې له ښوونځي راغلي وي، هسې نه د وره شاته پاتې شي.»




لـه مخـه ښـې سره زهـرا پـه چټکـو ګامونـو لـه روغتـون نـه ووتـه. زهـرا بـه پرېـږدو چـې کـور تـه لاړه شي، خـو مـوږ بـه دلتـه لـه شـاه محمـد سره پـه روغتـون کـې پاتـې شـو، چـې څـه کېـږي، کـه څنګـه!؟

یـوه ګـړۍ وروسـته سـور ګـروپ مـړ او د ژغورنـې د کوټـې ور خـلاص شـو. ډاکټـران خپـل لاسـماغوګان (دستکشـونه) لـه لاسـونو څخه ایسـتل او یـو یـو د ژغورنـې لـه کوټـې نـه راوتـل. شـاه محمـد لـه یـوې ډاکټـرې پوښـتنه وکـړه: «ډاکټـر صاحبـې! مېرمنـه مـې څنګـه ده؟»

ډاکټـرې ورتـه وویـل: «عملیـات سخـت وو، مېرمنـه دې الحمداللـه اوس ښـه ده. مبـارک دې وي اللـه پـاک یـو ښایسـته زوی درکـړی.»

شاه محمد چې له خوشحالۍ په جامو کې نه ځایېده، له ډاکټرې د خپلې مېرمن او زوی د لیدو اجازه وغوښته. ډاکټرې اجازه ورکړه خو ورته یې وویل: «لږ صبر وکړه، چې ستا مېرمن د ژوند کوټې ته بوځي، بیا یې وګوره.»

د ژوند کوټې ته ناروغان پس له عملیات نه راوستل کېږي، همدا چې یې حمیده د ژوند کوټې ته راوستله، شاه محمد یې لیدو ته ورغی؛ دواړه ښه خوشحاله وو چې زوی یې شوی. دا د دوی لومړی ماشوم و.



شاه محمد په زانګو کې پروت خپل ماشوم ته ور نږدې شو او روجايي يې له مخې نه لرې کړ؛ غوښتل يې هغه په غېږ کې ونيسي خو يو ناڅاپه يې چېغې کړې. ډاکټران راغلل چې پوه شي څه خبره ده. يوې ډاکټرې ترې وپوښتل: «خيريت دی، ولې چېغې وهې؟»

شاه محمد په لړزېدونکي غږ ووېل: «د دې ماشوم خو پښې نشته.»

د دې خبرې له اورېدلو سره يې مېرمنه هم ژر له ځايه راجګه شوه او د ماشوم په ليدو په چيغو او کوکارو شوه. مشرې ډاکټرې ورته ووېل: «ستاسو ماشوم همداسې پيدا شوی، پښې نه لري، الله همداسې پيدا کړی؛ موږ څه نه شو کولای.»

شاه محمد او حميدې به کله يو بل او کله ماشوم ته کتل. اخر په دې سلا شول چې ماشوم به همدلته پرېږدي. شاه محمد خپلې مېرمنې ته ووېل: «همدا ښه خبره ده، نه يې وړو، موږ ته به يو عذاب وي.»

دوی ماشوم همالته پرېښود او له روغتون نه ووتل. نرسه چې کله د خارجېدو د فورم ډکولو لپاره کوټې ته راغله، ويې ليدل چې له ماشوم نه پرته بل څوک په کوټه کې نشته؛ په ټول روغتون کې يې پوښتنه وکړه خو هېچا ته نه و معلوم چې د ماشوم مور او پلار څه شول، ځمکې وخوړل که اسمان!

اوس به د روغتون خلک پرېږدو چې خپل لټون وکړي، موږ به د خوشاليو کلي ته سر ورښکاره کړو.

شاه محمد او حمیده چې د خوشحالیو مېنې ته راستانه شول، ویې لیدل چې په ونو ناست مرغان خاندي او خپلې وزرې په یو بل باندې وهي، داسې لکه چکچکې چې کوي. ونو په دوی باندې د خپلو پاڼو باران وورواوه، ګلانو مبارکیانې ورکړې: «د سیمې دوه درېیم کس ته ښه راغلاست وایو، ښه راغلاست!»

(حیران شوئ چې دا څه پېښه وشوه!؟ نو زه به یې درته ووایم، تاسې سر مه پرې خوږوئ.)

د خوشحالیو مېنه یوه ډېره، ډېیېیېره عجیبه مېنه ده، ډېر کم خلک په کې اوسېږي، دا مېنه مشر نه لري، د دې سیمې ساتنه ونې، ګلان او په ونو ناست مرغان کوي؛ دوی ته د دې سیمې د هرې کوڅې کور او په هغه کې د اوسېدونکو کسانو شمېر معلوم وي، بله یې لا دا چې د دې مېنې ونې د انسانانو په څېر خبرې هم کولای شي. که څوک غلط کار وکړي، هغه ته سزا هم ټاکي. او له دې ټولو نه عجیبه دا چې د دوی غوسه ډېره خطرناکه وي.

مرغان د دې ونو استازي دي. دغه مرغان د هر ماشوم له زېږون سره ونو او ګلانو ته احوال ورکوي. دا چې نن یې احوال ورکړی و چې د شاه محمد او حمیدې په کور کې ماشوم زېږېږي، نو مشرې ونې ټولو ونو او ګلانو ته امر کړی و چې مېنې ته بې درکه ښکلا ورکړي.

همداسې هم وشول، ټولو ونو خپل ښاخونه لکه رسۍ یو بل ته وغځولې، یوې ونې د بلې ونې په ښاخ پورې خپل ښاخ داسې کلک وتاړه لکه چې چا اوږد تناو تړلی وي.

مېنــه د شــاه محمــد پــه راتلــو سره ډېــره ښایســته شــوې وه؛ مرغانــو سـندرې ویلـې او خپلـې وزرې یـې سره جنګولـې لکـه چې څـوک چکچکې ووهـي. هـر ګام بـه چې شاه محمـد او حمیـدې کښېـوده نـو ونـو بـه لـه خپلـو ښاخونو نـه ور بانـدې پاڼـې تویولـې او هـر ګل بوټـي تـه چې بـه ورسېدل هغـه بـه ځـان شړک تـاو کـړ او ګلان یـې پـرې شـیندل، داسې لکـه د یـخ پـر سر چې نجونـې نڅـا کـوي.

د ښـار ښایسـت تـه ټـول ګوتـه پـه غـاښ پاتـې وو خـو کوڅـې تـه لـه نـږدې کېـدو سره ټـول لـه ځـان سره پسـنېدل، یـوه بـل تـه بـه وویـل: «ماشـوم یـې پـه غېـږ کې نشـته، خـدای مـه کـړه کومـه بـده پېښـه نـه وي شـوې، دوی هـم خپـه روان دي.»

مـشرې ونـې پوښـتنه وکـړه: «شـاه محمـده! خیریـت خـو بـه وي ولـې تاسـو سره پـه غېـږ کـې ماشـوم نشـته؟»

شـاه محمـد ځـواب ورنـه کـړ. مـشرې ونـې بیـا پوښـتنه وکـړه: «شـاه محمـده! لکـه چـې وادې نـه ورېـدل. ولـې ماشـوم درسره نشـته؟»

مرغـان یـې هـم پـر سر راوالوتـل، پـه یـوه شـېبه کې یـې ښـځه او مېړمـن چـار چاپېـره محـاصره کـړل او چېغـې یـې پـرې وهلـې: «ماشـوم مـو څـه کـړ ؟ »

شـاه محمـد چـې ډار شـوی و، پـه بنـده بنـده ژبـه یـې ځـواب ورکـړ: «ماشـوم... پیـدا شـو... خو...خـو پښـې یـې نـه درلـودې... مـوږ هـم پـه روغتـون کـې پرېښـود...ځکه... د هغـه ....عمـري ځـور مـو... نـه شـوای زغملـی.» مـشره ونـه د دې ځـواب پـه اورېدلـو سـخته پـه



غوسه شوه او ويې ويل: «تاسې هم ځانونو ته مور او پلار وايئ! وشرمېږئ چې يو معصوم ماشوم مو په روغتون کې يوازې پرې ايښی. ها! تاسو د الله نعمت چې اولاد دی په ځمکه وويشت نو تاسې به پس له دې دلته لکه د پرديو اوسېږئ. نه به له چا سره غږېږئ، نه به چېرته ځئ.»



مشرې ونې یو سوړ اسویلی وکېښ او په ډېرې غوسې یې ورغبرګه کړه: «دا کار خو مو وکړ خو ډېر ژر به پښېمانه شئ او د دې کار سزا به دا ټول ښار ووینې چې سبا بل ځوک داسې د شرم کار ونه کړي.»

د مشرې ونې له دې خبرې سره ټوله مېنه یخې شوه؛ خلک چې دباندې وو یا دننه په کورو کې، په هر حالت کې چې وو یخې

شول. یو کس په خلاصه خوله په کوټه کې یخی شو، بل کس چې د کور دروازه یې خلاصوله او دوه کسه نور چې یو بل سره غوړ په غوړ خبرې کولې، یخی شول.

بس چې هر چا څه کول، په هماغه حالت کې یخی شول. بوټې او ونې ټولې وچې کلکې ودرېدلې، پاڼې او ګلان له خپلو ښاخونو نه داسې تویېدل لکه اوښکې چې له سترګو تویې شي.

مرغان په هوا کې یخی شول. شاه محمد او حمیدې به چې هرې خوا ته مخ واړوه، هغه خوا به یخی شوه، هر چا ته به چې ور نږدې شول، هغه به یخی شول.

ونو ته به یې چې څومره زارۍ کولې، د هغو د پاڼو تویېدل به چټک شول. په ټول ښار کې یوازې شاه محمد او حمیده یخی شوي نه وو، نور هرڅه او هرڅوک یخی شوي وو؛ دا څومره خلک چې یخی شوي وو، د دوی ټولو په وجود کې یوازې سترګې جوړې پاتې وې چې اوښکې ترې روانې وې.

د هغوی سترګو ته حمیدې او شاه محمد نه شوای کتلی، هېڅ یې نه شوای کتلی. کله چې خپل کور ته ورسېدل نو زهرا یې د خپل کور دروازې ته نږدې د ګلانو له ګېډۍ سره ولاړه ولیده چې یخی شوې وه.

د هغې له لاسه ګلان پر ځمکه تویېدل او له سترګو یې اوښکې روانې وې؛ کله چې دواړو د زهرا سترګو ته وکتل نو د



هغې مرستې او ستومانۍ ور په زړه شوې: «ثنګه یې خپل ټول کار او ژوند پرېښود او له موږ سره یې مرسته وکړه، امبولانس ته یې زنګ وواهه، په روغتون کې سرګردانه ګرځېدله، ماشومان یې ښوونځي کې پرې ایښي وو او اوس هم زموږ د ښه راغلاست لپاره زموږ د کور مخې ته د ګلانو له ګېډۍ سره درېدلې. خو ګوره چې زموږ له لاسه یخۍ شوې او خوځېدلی نه شي.»

د زهرا سترګو پر دوی د افسوس اوښکې تویولې، کله به چې د دوی سترګې د زهرا په سترګو ولګېدې نو ژر به یې

کښته کړې ځکه د هغې په سترګو کې دوی ته یوه پوښتنه وه (آخر ولې، ولې مو داسې وکړل؟) د هغې له سترګو به یې چې خپلې سترګې بل خوا واړولې نو د زهرا ماشومان به یې ولیدل چې د چندرۍ د لوبې په حالت کې یخې شوي وو.

ژر خپل کور ته ننوتل ځکه نور یې د دې حالت د لیدلو وس نه درلوده.

د دواړو له لاسه د خوشحالیو له مینې نه یخې جوړه شوې وه. وخت هم په کې تم شوی و. دا خو د خوشحالیو مینې حال و، اوس به د بیاژوند روغتون ته لاړ شو چې له نیمګړي ماشوم سره څه پېښېږي او تقدیر هغه چېرته بیایي.

ښه نو کله چې نرسې په کوټه کې ماشوم یوازې ولید، ډاکټرانو ته یې احوال ورکړ. هغوی د معلوماتو له شعبې نه پوښتنه وکړه؛ خو هغوی هم نپوهېدل چې د ماشوم مور او پلار څه شول.

ډاکټران خپلو کې له سلا مشورو وروسته دې پرېکړې ته ورسېدل چې نیمګړی ماشوم یوه اوونۍ وروسته روزنتون ته وسپاري. مشرې ډاکترې نورو ته وویل: «کېدای شي چې مور و پلار ورپسې راشي، که رانغلل نو د روزنتون خلک چې راغلل هغوی ته به یې وسپارو.»

یوه اوونۍ وروسته د روزنتون کسان راغلل خو د ماشوم د مور او پلار درک ونه شو.

روغتون هم نور ماشوم نه شوای ساتلی ځکه نیمګړی ماشوم ډېر



وړوکی و او په روغتون کې پاتې کېدل ورته ښه نه و ځکه هلته هر ډول ناروغان راتلل، د دوی وېره دا وه چې کومه ناروغي یې ونه نیسي. د روزنتون کسانو هغه ماشوم له ځان سره یووړ.

تاسې خو به پوهېږئ چې روزنتون یعنې څه؟ هله شاباس څوک به یې راته ووایي. آپرین تاسې ښه معلومات لرئ، خو لږ معلومات به زه هم درکړم. روزنتون داسې یو ځای دی چې هلته ماشومان روزل او ساتل کیږي. داسې ماشومان چې مور او پلار او یا هم خپل خپلوان نه لري چې ویې ساتي.

اوس نو نیمګړی ماشوم هم له همدې ډلې ماشومانو څخه و. په دې خو وپوهېدئ خو دا هم درته وایم چې روزنتون داسې یو ځای دی چې ډېریو ماشومانو ته مور او پلار هم پیدا کېږي.

ځینې کسان چې ماشوم نه لري، روزنتونو ته ځي، هلته چې هر ماشوم یې خوښ شي، د اولاد په توګه یې غواړي.

روزنتون هم ټول قانوني اسناد ورته پوره کوي او ماشوم د هغوی د اولاد په نوم هغوی ته ورکوي. هغه ماشوم نو سر له هماغې ورځې او نېټې د هغوی د اولاد په نوم پېژندل کیږي او کوچنی ځان ته مور او پلار او د هغوی مینه پیدا کوي.

اوس چې مو روزنتون وپېژانده، راځئ چې پاتې کیسه را واخلو.

کله چې د روزنتون کسانو نیمګړی ماشوم له ځان سره یووړ، هلته ماشومانو او لویانو په خواشینۍ یو بل ته وویل: «دا ماشومک وګوره، دا خو پښې نه لري. جان! خوارکی به ځنګه په تکلیف وي. چې لوی شي خومره به خپل حالت ته خواشینی وي.»

نیمګړي ماشوم که خبرې نه شوای کولی خو احساس خو یې د روزنتون له لومړۍ ورځې د خلکو په سترګو کې ځان ته یو خاص ډول زړه سوی لیده. نیمګړی ماشوم ډېر کوچنی و، نوم یې نه درلود، د همدې لپاره روزنتون ورته د صابر نوم خوښ کړ.

دی هلته هغه یوازینی ماشوم و چې پښې یې نه درلودې. د وخت په تېرېدو سره صابر چې غټېده، خپل حالت ته یې خواشیني او اندیښنه زیاتېدله.

د دې نیمګړتیا لـه کبلـه چا لـه صابـر سره ملګرتیـا نـه کولـه او نـه یـې هـم لوبـو تـه پرېښـوده. هغـه بـه هـره ورځ ګوښـې پـه یـو ګـوټ کـې پـه خپـل ویلچیـر کـې ناسـت و. ویلچیـر هغـه ټیـر لرونکـې څوکـۍ ده چـې څـوک پښـې نـه لـري یـا ګرځېدلـی نـه شي، پـر هغـه کښـېني او ګرځـي.

ده بـه تـل لـه لرګیـو جـوړ شـوي د ایسـکریم کاشـوغې ټولولـې او لـه هغـو نـه بـه یـې ځـان تـه د لوبـو سـامانونه جـوړول. خـو د روزنتـون ماشـومان بـه چـې پـرې رابرابـر شـول، جـوړ کـړي ځیزونـه بـه یـې ور ړنګـول او بیـا بـه یـې پـه زوره، زوره پـرې خنـدل.

صابـر بـه هېـڅ هـم ورتـه نـه ویـل او خپـل لرګـي بـه یـې بېرتـه را ټـول کـړل او د ځیزونـو پـه بیـا جوړولـو بـه لګیـا شـو. یـوه ورځ صابـر لـه همـدې لرګیـو نـه یـو وړوکـی کـور جـوړ کـړ؛ پـه هغـه کـې یـې دوې نانځکـې چـې یـوه تـه یـې د هلکانـو کالي او بلـې تـه یـې د نجونـو کالي ور اغوسـتي وو؛ پـه خاصـو ځایـو او ښـلو حالتونـو کـې ودرول. د کـور مخـې تـه یـې یـو کوچنـی پـر څوکـۍ کښـېنولی و او د هغـه ترڅنګـه یـې یـوه نانځکـه داسـې پـه ګونـډو کېنولـې وه چـې هغـه کوچنـي تـه یـې پـه مینـه مینـه کتـل .

صابـر خپـل جـوړ کـړي کـور تـه پـه کتـو و چـې د روزنتـون مـشر پـه مایکروفـون کـې اعـلان وکـړ: «یـوه کورنـۍ غـواړي چـې ماشـومان وګـوري، ټـول ماشـومان دې چمتـو او د روزنتـون انګـړ کـې منظـم ودرول شي.»

د روزنتـون سـاتونکو د مـشر پـه خـبره ټـول ماشـومان چمتـو کـړل او

انګــړ تــه یــې را وایســتل.

کلــه چــې هغــه کورنــۍ انګــړ تــه راغلــه، د ماشــومانو پــه لیــدو ډېــر خوشــحاله شــول او ټولــو تــه یــې پــه ځیــر، ځیــر وکتــل. ماشــومانو لــه هیلــو نــه پــه ډکــو ســترګو راغــلي ســړي او مېرمنــې تــه کتــل او پــه زړه کــې یــې ویــل: «کاش چــې مــا خــوښ کــړي. کاش!»

همــدا خــبره د صابــر پــه زړه کــې هــم ګرځېــده او پــه ډېــرو امېدونــو یــې ورتــه کتــل.

ښــځه پــه مینــه د ماشــومانو خــوا تــه ورغلــه او هــر یــوه ماشــوم تــه یــې پــه مینــه مینــه وکتــل. همــدا چــې ســترګې یــې پــه صابــر ولګېــدې پــر خپــل خاونــد یــې غــږ وکــړ: «هغــه پــه منځ کــې ولاړ ماشــوم ډېــر ښــکلی او معصــوم دی، ډېــر مــې خــوښ شــو.»

ســړی د خپلــې ښــځې خــوا تــه ورغــی او پــه ځــیر یــې صابــر تــه وکتــل. بیــا یــې خپلــې ښــځې تــه مــخ واړاوه او ویــې ویــل: «کــه ســترګې دې ښــکلې نــه وای نــو دومــره ښــکلی ماشــوم بــه دې ځنګــه خــوښ کــړی وای.»

دواړو وخنــدل او پــه خوشــحالۍ یــې د روزنتــون مــشر تــه مــخ واړاوه. هغــه تــرې وپوښــتل: «کــوم یــو مــو خــوښ شــو؟»

ســړي غوښــتل ځــواب ورکــړي خــو ښــځې وار ورنــه کــړ: «زمــوږ هغــه د تــورو ســترګو والا هلــک خــوښ شــو، هغــه پــه دویــم کتــار کــې چــې ســپین یخــن قــاق یــې اغوســتی.»

د روغتــون مــشر ورتــه وویــل: «تاســې ډېــر مهربــان خلــک یــئ، ډېــر ښــه

ماشوم مو خوښ کړی. په دې کار به الله پاک تاسو ته ډېر اجر درکړي.»

د روزنتون مشر هغوی خپل دفتر ته بوتلل او هلته يې اسنادونه ورته مخې ته کېښودل. همدا چې سړي غوښتل اسناد امضا کړي، ساتونکو ماشوم راوست. د روزنتون مشر وویل: «مبارک! دا هم ستاسو ګلالی ماشوم.» سړي همدا چې صابر ته وکتل، اسنادونه يې له لاسه پر ځمکه وغورځېدل او په غوسه يې وویل: «موږ خو روغ ماشوم خوښ کړی و.»

د روزنتون مشر ورغبرګه کړه: «دا هلک هم روغ دی، هم لایق او



هم با ادبه؛ یوازې له زنګنو کښته پښې نه لري او بیا تاسو خو همدا ماشوم خوښ کړی و.»

سړي وویل: «زموږ سالم او په وجود روغ ماشوم په کار دی؛ نه نیمګړی.»

ښځې وروځې پورته واچولې او په ملنډو یې وویل: «هغه مو د نورو ماشومانو په منځ کې پټ درولی و چې ښکاره نه شي په ویلچیر کې ناست دی او که پر خپلو پښو ولاړ دی. که راکوئ یو روغ ماشوم راکړئ، دا هلک مو په درد نه خوري.»

د روزنتون مشر د بل ماشوم د خوښولو لپاره له سړي او مېرمن سره یې له دفتر نه انګړ ته ووت. د ټولو په وتو سره صابر یوازې پاتې شو، خپلو پښو ته یې وکتل؛ اوښکو یې پر مخ باران جوړ کړ او په ژړا ژړا یې د خپل ویلچیر ټیرونو ته لاسونه واچول، چټک چټک یې تاو کړل او د روزنتون له ادارې ووت.

د دروازې شاته چې کوم ماشومان ولاړ وو او هر څه یې اورېدلي وو، ملنډې یې وکړې: «کورونه دې جوړول! ګومان دې و چې مور او پلار به پیدا کړې! خو د هیچا هم ته نه یې په کار، موږ ټول به لاړ شو خو یوازېنی کس چې ټول عمر به دلته پاتې شي، هغه به ته یې.»

صابر خپل ویلچیر نور هم ګړندی کړ او د روزنتون له دروازې ووت. هغه همداسې په مخ روان و او د هرې شېبې په تېرېدو یې ویلچیر ګړندی کاوه. په لاره کې ورباندې تېز باران و اورېده، ډېر تېز باران،

اسمان داسې تالنده او برېښنا کوله لکه چې پر چا ښه په غوسه وي. باران نه و، سم توپان و. صابر په ویلچیر کې په تنګ کې سلګۍ وهلې او یو دم به په چیغو شو.

د هغه له چیغو سره به تالنده او برېښنا ګډه شوه او د هغه چیغې د چا تر غوږو نه رسېدې.

باران چې ډېر په تنګ کړ، د یو دېوال خوا کې یې ویلچیر ودراوه. سوچونو په مخه کړ. د روزنتون د ماشومانو خبرې یې مغزو کې انګازې وکړې: «ته به ټول عمر په روزنتون کې پاتې یې، موږ به کورونه پیدا کړو او د ښه ژوند خاوندان به شوو.»

هغه خبره یې هم په زړه شوه چې یوه ورځ د روزنتون مشر ورته



کړې وه: «کله چې ته بې پښو پیدا شوې، مور او پلار دې له دې وېرې چې تا به ځنګه لویوي، په روغتون کې پرېښودې، بیا روغتون مور ته وسپارلې.»

له دې خبرې سره یې یوه جټکه وخوړه او له ځان سره یې وویل: «روزنتون ته نه ځم خو چېرته لاړ شم؟ مور او پلار چې قبول نه کړم بل څوک به مې څه قبلوي.»

شاوخوا ته یې وکتل، ځای نااشنا ورښکاره شو، له ځانه یې وپوښتل: «نه پوهېږم چېرته راغلی یم، لاره هم نه ده را معلومه، کومې خوا ته لاړ شم.»

همدې سوچونو کې یې ناڅاپه د یوې پېشۍ زګېروي واورېدل. هاخوا دېخوا یې سترګې واړولې. نږدې د یوې ونې لاندې یوه پېشۍ ټپي حالت کې پرته وه. په ویلچیر کې د هغې خوا ته لاړ. د ونې له ځوړند ښاخ څخه یې خو پاڼې وشکولې او له ویلچیر نه یې ځان ښکته ګوزار کړ. پاڼې یې د هغې په پښه کښېښودلې او خپل د غاړې دستمال یې ترې تاو کړ. د پېشۍ درد چې کم شو، صابر ترې پوښتنه وکړه: «پېشۍ ګلې! پښه دې څنګه زخمي کړې؟»

پېشۍ ورته وویل: «وه د خدای نیک بختَه! دا پوښتنه پرېږده، خپل حال دې ووایه.»

د صابر هم چې زړه ډک و، له پیله تر پایه پورې یې ټوله کیسه ورته وکړه. پېشۍ وویل: «وه د خدای نیک بختَه! دا خو درسره ډېر غلط کار شوی خو ته یې پروا مه کوه؛ راځه! زه به تا داسې ښار



تـه بوځـم چـې هېڅکلـه بـه هـم پـه کـې د نيمګړيتـوب احسـاس ونـه کـړې.»

پيشـی لـه دې خـبرې سره درې ځلـې خپلـه پښـه پـه ځمکـه وټپولـه. صابـر حيـران، حيـران ورتـه کتـل چـې يـو وار د دوی مخـې تـه يـوه لويـه بېـړۍ کېناسـته. پیشـی صابـر تـه مـخ واړاوه او ورتـه يـې وويـل: «راځـه پـه دې بېـړۍ کـې سـپور شـه.»

صابـر هـم نـورې پوښـتنې ونـه کـړې او بېـړۍ تـه وخـوت، پيشـی بېـړۍ تـه وويـل: «والوځـه!»

بېـړۍ پـه هـوا شـوه، ډېـره پورتـه والوتلـه، بېخـي ډېـره پورتـه، لـه پـاس نـه

صابر تـه د لانـدې ځمکې ښـکلا حيرانوونکې وه. ښېړۍ دومـره پورتـه والوتلـه چـې لـه هغـه ځـای نـه ځمکـه د يـوې وړې مندکـې پـه شـان ښـکارېده. ښېړۍ تـر ډېـره وختـه پـه هـوا کـې وه.

همـدا چـې پـه ځمکـه کېښېناسـته، پېشـۍ صابـر تـه وويـل: «وه د خـدای نېـک بختـه! راځـه را کېښـته شـه، ورسـېدو. پـس لـه دې سـتا ښـار دا حيرانوونکـی ښـار دی؛ دلتـه بـه تـه هېڅکلـه هـم ځـان نيمګـړی نـه ګڼـې.»

صابـر چـې کلـه شـا او خـوا تـه سـترګې وغړولـې نـو د ښـار د منظـرې پـه ليـدو يـې سـترګې ځلـور شـوې.

دې ښار بل ډول ښايست درلود. منځ کې يې يو اوږد سيند بهېده، د سيند دواړه خواوې ډېرې سمسورې وې.

پـه دې حيرانوونکـي ښـار کـې هـر ډول خلـک اوسـېدل، هـم د بـدن پـه غـړو بشـپړ او هـم نيمګـړي. هـر يـو پـه خپـل کار بوخـت و. چـا ښـکلي ښـکلي انځورونـه ايسـتل، چـا کالي ګنـډل، چـا سـپورټ کاوه، چـا يـو څـه چـا بـل څـه خـو کـوم څـه تـه چـې صابـر پـه چـورت کـې تللـی و، هغـه دا و چـې دا ټـول کارونـه پـه بـدن نيمګـړي کسـانو کاوه.

د يـوې انځورګـرې چـې لاسـونه نـه وو، قلـم يـې پـه پښـو نيولـی و او پـه يـوې لويـې تختـې بانـدې يـې چـې سـپين کاغـذ پـرې ټـک وهـل شـوی و، انځورګـري کولـه. د بلـې چـې چپـه پښـه او ښـی لاس نـه و، هغـې پـه چمـن کـې پـه چـپ لاس او ښـۍ پښـې پـه ماشـين خياطـي کولـه. هغـه دې هرڅـه تـه پـه حيرانـۍ کتـل چـې پېشـۍ وربانـدې غـږ وکـړ: «وه د

خـدای نېـک بختـه! ښـار دې خـوښ شـو او کـه نـه؟»

صابـر ورتـه وویـل: «هـو! ښـار ډېـر ښایسـته دی خـو دا کسـان څنګـه کولـی شي چـې کار وکـړي؟»

پېشـۍ ځـواب ورکـړ: «وه د خـدای نېـک بختـه! همـدا خـو د دې ښـار کـمال دی، دې ښـار تـه ټـول راغـلي خلـک تـا غونـدې وو؛ خـو ورو ورو یـې خپـل ځـان وپېژانـده او کلـه یـې چـې ځـان وپېژانـده نـو خپلـې پټـې وړتیـاوې یـې پیـدا کـړې؛ دا دی لکـه نـن چـې ګـورې هـر یـو پـه یـو څـه کـې تکـړه دي.»

پیشـۍ د صابـر پـر ولي لاس کېښـود او ورغبرګـه یـې کـړه: «فکـر مـه کـوه، دا ښـار بـه تـا تـه هـم سـتا وړتیـا در وښـیي. دا حیرانوونکـی ښـار دی ټـول خلـک یـې خپلـو وړتیـاوو تـه حیـران کـړي، تـا بـه هـم حیـران کـړي. اوس نـو همدلتـه ژونـد کـوه.»

صابـر هـره ورځ د ځـان پـه اړه فکـر کاوه چـې دی کـوم کار کولـی شي، ځکـه ده د ځـان پـه اړه هیـڅ معلومـات نـه درلـودل او پـه هیـڅ کار کـې یـې برخـه نـه وه اخیسـتې.

یـوه ورځ چـې د سـیند تـر غـاړې پـه چمـن کـې ناسـت و او وړې تیـږې یـې سـیند تـه اچولـې، انځورګـرې وربانـدې غـږ وکـړ: «صابـره! وه صابـر ګلـه! زمـا انځـور تـه وګـوره!»

صابـر چـې مـخ ور واړاوه نـو پـه انځـور بانـدې یـې سـترګې ولګېـدې. انځورګـرې ورتـه انځـور هسـې ایسـتلی و لکـه څنګـه چـې دی ناسـت و او وړې وړې تیـږې یـې سـیند تـه ګوزارولـې. صابـر د دې انځـور پـه لیدلـو

ډېر خوشحاله شو او ویې ویل: «واه ه ه! دا لکه چې زه یم؟»

انځورګرې ورته کړه: «هو دا ته یې. ډېر په فکر کې ډوب وې، ما ویل راځه چې یو انځور دې وباسم.»

پس له هغې ورځې صابر له انځورګرې سره ملګری شو. صابر به چې د انځورګرې دا وړتیا لیده په فکر کې به ډوب شو او د روزنتون د ښوونځي وخت به یې ور په زړه شو.

رایاد یې شول چې یوه ورځ په ښوونځي کې د لاسي کار جوړولو ورځ وه، ټولو ماشومانو لاسي څیزونه جوړول. ده هم د فوټبال یو وړوکی د لوبو میدان جوړ کړی و او په هغه میدان کې یې له کاغذونو نه ډېر په مهارت کوچني کوچني په وجود نیمګړي ماشومان له روغو ماشومانو سره د لوبو په حالت کې درولي وو. ځکه د ده د فوټبال لوبه خوښېده او روزنتون کې به هره ورځ ماشومانو همدا لوبه کوله خو دی یې ورته نږدې نه پرېښوده.

له همدې کبله ده د لوبو میدان د لاسي کار جوړولو په ورځ جوړ کړی و. خو مخکې له دې چې هغه لاسي کار ښوونکې وګوري نورو ماشومانو ورته مات کړی او ورته یې ویلي وو: «ته زموږ په شان نه یې او نه هم موږ سره لوبې کولی شې. نو داسې بې ځایه خوبونه مه وینه.»

د انځورګرې ناڅاپه غږ صابر له فکرونو نه را وایست: «بیا د څه شي په اړه فکر کوې؟»

صابر ورته وویل: «هیڅ، د روزنتون د ښوونځي وخت مې را په زړه

شـو.»

انځورګرې وویل: «ښاااا! ته ښوونځي ته هم تللی يې؟»

صابر ورغبرګه کړه: «هو.»

انځورګرې وپوښتل: «نو د ښوونځي کيسې دې راته وکړه.»

صابـر ورتـه وويـل: «زمـا ښـوونځی پرېـښـوده، تـا لـه يـوې لويـې پوښـتنې سره مـخ کـړی يـم.»

انځورګرې په حيرانۍ وپوښتل: «هغه څنګه؟»

صابـر وويـل: «تـه لاسـونه نـه لـرې او بيـا هـم انځوګـري کوې، دا ښـکلي انځورونـه څنګه باسـې؟»

انځورګـرې ورتـه وويـل: «زه چـې پـه کومـه ورځ دې ښـار تـه راغلـم، پوهـه شـوم چـې اللـه پـاک کـه مـوږ تـه د بـدن کـوم غـړی کـم راکـړی، د هغـه پـه بـدل کـې يـې داسـې څـه راکـړي چـې د هغـه پـه پېژندلـو او پيـاوړي کولـو ټـول خلـک ځـان تـه حيرانولـی شـو.» انځورګـرې غـاړه تـازه کـړه او پـه ويـاړ يـې وويـل: «زمـا لاسـونه نـه وو، مګـر کوښـښ مـې وکـړ او زيـار مـې وايسـت چـې لـه پښـو نـه لکـه لاسـونو کار واخلـم.»

انځورګـرې تـر لـرې لـرې شـاوخوا غرونـو او ځنګلونـو تـه وکتـل او بيـا يـې ورغبرګـه کـړه: «لـه طبيعـت او ښـکلا سره ډېـره مينـه لـرم. دې مينـې ورتيـا راکـړې چـې پـه نيمګـړي ځـان انځـور ګـري وکـړم. ډېـره خـواري مـې وکـړه او هـر انځـور مـې لـه بـل نـه ښـه وايسـت.

د خـدای شـکر دی نـن پـه نـړۍ کـې خلـک مـا د خپلـې انځورګـرۍ لـه کبلـه پېـژني. تـه هـم پـه ځـان کـې هغـه اسـتعداد پيـدا کـړه چـې وړتيـا

پـه کـې لـرې. دا ښـه نـه ده چـې هـره ورځ د سـیند تـر غـاړې نهیلـې کښـېنې؛ دا د فرصتونـو دنیـا ده، تـه هـم یـو کار پـه کـې ځـان تـه وګـوره. دا فرصـت لـه لاسـه مـه ورکـوه.»

دې خـبرو پـه صابـر ډېـر اغېـز وکـړ. څـو ورځـې او شـپې یـې پـه دې فکـر وکـړ چې څـه کولـی شي.

همـدې چورتونـو کـې و چـې یـو ناڅاپـه تالنـده او برېښـنا شـوه او بـاران پـه ورېـدو شـو. بـاران دومـره تېـز و چـې د ښـار ټولـو خلکـو یـوې او بلـې خـوا تـه منـډې وهلـې، حیـران پاتـې وو چـې چېرتـه ځانونـه پـټ کـړي. ځکـه پـه دې ښـار کـې هېڅکلـه بـاران نـه و شـوی.

تاسـې بـه پوښـتئ چـې ولـې خپلـو کورونـو تـه نـه تلـل. ښـه پوښـتنه ده خـو دلتـه هېڅـا کـور نـه درلـوده؛ چـې د هـر چـا چېرتـه زړه وشـو، هلتـه بـه اوسـېده او ویـده کېـده.

ټـول خلـک لـه بـاران نـه د ونـو لانـدې ودرېـدل. لـه بـاران سره د سـیند اوبـه هـم ډېـرې زیاتـې شـوې. آن د خلکـو پښـو تـه ورسـېدې؛ خلکـو ځانونـه پـه ونـو پـورې کلـک ونیـول چـې اوبـه یـې پـه مخـه نـه کـړي. صابـر د ونـې جوړښـت تـه پـه ځیـر، ځیـر وکتـل. کلـه چـې بـاران ودرېـد صابـر لـه ټولـو خلکـو نـه وغوښـتل چـې ورتـه ښـه ډېـر لرګـي راوړي. ټولـو تـرې پوښـتنه وکـړه: «پـه لرګیـو بانـدې څـه کـوې؟»

صابر وویل: «تاسې یو ځل ما ته لرګي راوړئ بیا به پوه شئ.»

ټولـو ورتـه ښـه او ډول ډول لرګـي راوړل. صابـر لـه خلکـو هیلـه وکـړه چـې دی یـوازې پرېـږدي. ټـول لاړل. صابـر پـه لرګیـو کار شروع کـړ او

یو ډېر ښکلی وړوکی کور یې جوړ کړ. بیا یې په ټولو غږ وکړ: «راشئ وګورئ چې ما څه جوړ کړي؟»

هغوی چې راغلل او له لرګیو څخه جوړ کړی کور یې ولید، حیران وو چې دا څه شی دی؟ صابر ورته وویل: «مه حیرانېږئ، دا کور دی. په دې ښار کې هر څه شته خو کورونه نشته. ما په دې کار سره وغوښتل چې تاسې هر یو ځان ته یو کور ولرئ.»

خلکو ورته وویل: «موږ ته د کور حاجت نشته، موږ غواړو همداسې په آزاده فضا کې ژوند وکړو.»

صابر وویل: «نه داسې مه وایئ! له دې وروسته تاسې باید کور ولرئ ځکه چې تر اوسه دلته باران یا توپان نه و شوی. هغه متل مو نه دی اورېدلی چې وایي (منګی هر وخت نه ماتېږي.) ګورئ تاسو ګومان کړی و چې هېڅکله به دلته باران نه کېږي مګر نن وشو. که کورونه وای ټول به خپلو کورونو ته تللي وئ او هلته به پټ شوي وئ.»

کله چې د ده خبرې د حیرانوونکي ښار مشر ته ورسېدې، خلکو ته یې وویل: «له صابر سره د کور په جوړولو کې مرسته وکړئ، هر څه یې چې په کار وي، هغه ورته چمتو کړئ.»

خلکو د مشر خبره ومنله او له صابر سره مرستې ته چمتو شول. ټولو هغه څه کول چې صابر ورته ویل.

په پای کې چې کله کور جوړ شو، صابر وویل: «اوس د ګلانو ښاخونه په دې لرګیو تاو کړئ.»

د شپې تیاره خپره شوې وه او ټول ډېر ستړي وو، صابر ورته وویل: «زموږ کار خلاص دی، اوس کولی شئ چې ویده شئ.»

ټول لاړل او هرې خوا ته لکه پخوا په آزاده فضا کې ویده شول خو صابر ټوله شپه د ګلانو ښاخونو ته اوبه ورکولې. کله چې سهار خلک را ویښ شول، د کور ښکلا ته ګوته په غاښ پاتې شول؛ د ښار مشر چې کله د کور لیدو ته راغی، ویې ویل: «دا خو ډېر ښایسته کور دی. ماشاءالله! ستا لاسو کې جادو دی، دا هغه وړتیا ده چې الله یوازې په تا لورولې ده.»

کور ډېر ښایسته ښکارېده. په یوه شپه کې ښاخونو غوټۍ کړې وې او ټول کور په ګلانو پوښل شوی و. د ښار مشر صابر ته وویل چې په همدې ډول نور کورونه هم جوړ کړي. صابر د لومړي ځل



لپاره د خپل کار له کبله ښې خبرې اورېدې او ډېر ورته خوشحاله و. هغه د ښايسته نقشو د جوړولو لپاره شپه او ورځ پر ځان يوه کړه او په کم وخت کې يې ډېر کورونه جوړ کړل.

يو کال وروسته چې د ښار مشر د صابر ليدو ته راغی، د ګڼو ښکلو کورونو په ليدو ګوته په غاښ شو. د صابر لاسونه يې ښکل کړل او ورته يې وويل: «تا زما ښار ته بله ښېره ورکړه، کورونه دې په ګلانو وپوښل. داسې کورونه به په هېڅ بل ښار کې نه وي، ته ډېر تکړه هلک يې، پس له دې همدا کار کوه چې نور هم په کې تکړه شې.»

صابر ته د انځورګرې خبره ور ياده شوه: «ته په ځان کې پټه وړتيا پيدا کړه، بيا به ډېر لوړ مقام ته ورسېږې.»

په دې شېبه کې انځورګره هم د هغه خواته راغله او په وياړ يې ورته وويل: «همدا ستا وړتيا ده چې تا به ډېر لوړ ځای ته ورسوي.»

صابر پر خپل کار په نقشه جوړولو اخته و چې پېشۍ راغله او ورته يې وويل: «وه د خدای نېک بخته! راځه چې مشر غوښتی يې.»

صابر وپوښتل: «ولې؟ څه مې کړي؟»

پيشو ځواب ورنه کړ، صابر فکر کاوه چې حتما کوم ناسم کار يې کړی چې مشر غوښتی دی. صابر رنګ الوتی، مشر ته ورغی. مخکې له دې چې مشر ورته څه ووايي، ده وويل: «د حيرانوونکي ښار مشره، بخښنه غواړم که ما نه څه تېروتنه شوې وي!»

مشر ورته وويل: «ولې بخښنه غواړې تا خو کومه تېروتنه نه

ده کړې، ما د دې لپاره را وغوښتې چې غواړم تا يوې مسابقې ته ولېږم.»

صابر وويل: «مسابقه! د څه شي مسابقه؟ زه به په کې څه کوم؟»

د ښار مشر ورته وويل: «نن مې په ورځپاڼو کې ولوستل چې يوه لويه نړيواله مسابقه ده او له هر ګوټ نه خلک په کې ګډون کولی شي. سيالي کوونکي هلته خپلې وړتياوې ښکاره کوي او ګټونکي ته د سرو زرو مډال ورکول کېږي. ومې غوښتل چې زموږ له ښار نه ته په دې سيالۍ کې برخه واخلې. ته هلته د کور په جوړولو کې خپله وړتيا ښکاره کړه او د سرو زرو مډال ترلاسه کړه.»

صابر حيران و. نپوهېده چې څه ووايي، تر ډېر سوچ وروسته يې وويل: «زه! زه کله دومره تکړه يم، هلته به ډېر تکړه تکړه کسان راځي، ته خو ګورې چې زه نیمګړی يم، ما به کله هلته پرېږدي.



زمـوږ پـه روزنتـون کـې هـم چـې مسـابقې کېدلـې د روزنتـون کسـانو نـه پرېښـودلم چـې پـه کـې ګـډون وکـړم.»

صابر په چورت کې لاړ او تر یوې شېبې چوپتیا وروسته یې وویل: «زما همزولو به ویلې، دا مسابقې ستا لپاره نه دي ته په کې ګډون نه شې کولی؛ په مسابقو کې ګډون څه چې له نږدې مې لیدلې نه دي.»

صابـر تـه لکـه چـې څـه ور یـاد شـوې وي، پـه خوشـالۍ یـې د ښـار مـشر تـه وویـل: «قربـان کـه زمـا منـې انځورګـرې ملګـرې تـه مـې ووایـه چـې ګـډون پـه کـې وکـړي، هغـه لـه مـا نـه ډېـره تکـړه ده. خامخـا بـه د سرو زرو مـډال وګټـي.»

مشر ورته وویل: «خبرې دې خلاصې شوې؟»

صابر ځواب ورکړ: «هو!»

هغـه ورغبرګـه کـړه: «دا مسـابقه د تنکیـو هلکانـو لپـاره ده، کلـه چـې د تنکیـو نجونـو لپـاره وشـوه، بیـا بـه دې انځورګـره ملګـرې پـه کـې ګـډون وکـړي، اوس بـه تـه پـه کـې ګـډون کـوې. او هـو، پـه دې هـم بایـد پـوه شـې چـې د روزنتـون کسـان سـتا پـه وړتیـا نـه پوهېـدل خـو زه دې هـم پـه وړتیـا پوهېـږم او هـم پـه هغـه پـوره بـاور لـرم، دا مسابقه پرتـه لـه تـا نـه بـل هېڅـوک نـه شي ګټلـی.»

مـشر د صابـر خواتـه راغـی، هغـه یـې پـر ولي وټپـاوه: «تـه دا فکـر مـه کـوه چـې نیمګـړی یـې بلکـې تـه داسـې وګڼـه چـې تـر هـر چـا ښـه یـې او نـن یـې ورځ ده چـې نـړۍ تـه خپـل ځـان او خپلـه وړتیـا ښـکاره کـړې. خلـک بایـد تـا سـتا لـه وړتیـا نـه وپېـژني.»

د ښار مشر امرانه لهجه خپله کړه او ويې ويل: «بس سر له نن نه خپل چمتووالی نیسه. ځکه مسابقه دوه اوونۍ وروسته پیلېږي، څومره چې کولی شې تمرين کوه، هر څه ته چې اړتيا ولرې زه يې درته چمتو کوم.»

صابر خپل جوړ کړي کور ته راغی او په چورت کې ډوب شو. انځورګره ملګرې يې راغله او ورته يې وويل: «ولې داسې په چورت کې ناست يې، ته خو بايد خوشحاله اوسې چې يوه لويه نړيواله مسابقه کې برخه اخلې، له دې موقع نه ګټه واخله، کوښښ وکړه او خلکو ته ځان ور وپېژنه چې بيا څوک درته نيمګړی ونه وايي.»

انځورګره چې ځيره شوه صابر لا هم په ژور چورت کې ډوب دی او يو ډول ډار لري نو ورته يې وويل: «ته ولې تل دومره د يو څه په اړه بې ځايه چورتونه وهې، ته بايد وپوهېږې چې په چورتونو څه لاس ته نه درځي؟»

صابر خپله اندېښنه ورسره شريکه کړه: «ما دا څيزونه په روزنتون کې هم جوړول خو هلته به مې همزولو ور پورې ملنډې وهلې او هغه يې ماتول...»

لکه چې څه يې په زړه کې تېر شوي وي، ويې ويل: «هغه بله ورځ دې رانه د ښوونځي په اړه پوښتنه وکړه، نن به يې درته ووايم: يوه ورځ مو په ښوونځي کې د لاسي کار مسابقه وه، هر چا يو څيز جوړاوه. نو ما هم په همدې لړګيو باندې د فوټبال د لوبو يو ميدان جوړ کړ. په هغه کې مې له کاغذونو نيمګړې او روغې نانځکې جوړې کړې، چې په ګډه يې لوبې کولې. ما غوښتل د دې لاسي

کار په مرسته ځان ته ملګري پیدا کړم او د خپل زړه خبره ورته وکړم. خو ته پوهېږې راسره څه وشول؟» انځورګرې وپوښتل: «نه، نپوهېږم، څه وشول؟»

صابر ورته د هغې شېبې کیسه وکړه: «مخکې له دې چې هغه د لوبو جوړ کړی میدان مې ښوونکی وګوري، همزولي مې راغلل او هغه یې راته مات کړ. هغوی راته وویل چې ته زموږ په شان نه یې او نه هم مونږ سره لوبې کولې شي.»

نو اوس ته ووایه، زه په مسابقه کې څنګه ګډون وکړم؟ کله چې څوک ما په ملګرتیا نه قبلوي، زما وړتیا به څنګه ومني.»

انځورګره چې پوهه شوه، صابر په اسانۍ غاړه نه ږدي، ویې ویل: «زه به تا ته یوه کیسه وکړم، خو ته به ورته په غور غوږ نیسې.»

صابر چې ورسره ومنل، انځورګره لګیا شوه: «په نړۍ کې پنځه براعظمونه دي چې یو په کې امریکا نومېږي. امریکا د نورو براعظمو غوندې ډېر لوی دی؛ ډېر هېوادونه لري، د دې براعظم یو هېواد د همدې براعظم په نوم یادېږي یعنې امریکا. په دې امریکا کې ډېر ولسمشران تېر شوي دي. خو خاص ولسمشر یې پوهېږې څوک و؟»

صابر چې خړ خړ ور وکتل، انځورګره موسکه شوه،: «خیر دې وي، زه یې درته ووایم. هغه فرانکلن دېلانو روزولت و. هغه د امریکا دوه دېرشم ولسمشر و، خو له پښو نه فلج و؛ یعنې پښې یې درلودې مګر ګرځېدلی نه شو. دا ناروغي ورته په نهه دېرش کلنۍ کې پیدا شوې و. خو هغه بیا هم څلور ځلې پرله پسې د امریکا ولسمشر


شو چې خلک ورته تر ننه پورې درناوی کوي. امریکا یې ډېر لوړ مقام ته ورساوه. هېڅ دا ګومان نه کاوه چې ګواکې هغه ګرځېدای نه شي. پوهېږې کله چې فلج شو نو ډېر نا امېده شوی و، خو د وخت په تېرېدو سره یې مېړمنې ورته وویل، ستا فلج کېدل باید ستا د پرمختګ مخه ونه نیسي، ته باید نورو ته یوه بېلګه وګرځې چې هغوی هم له خپل حالت سره مبارزه وکړي نو ته باید تسلیم نه شې، ته باید مبارزه وکړې. هماغه و چې فرانکلن ډېلانو روزولت چې په (FDR) مشهور و، ځان ټاکنو ته کاندید کړ او بریا یې هم په برخه شوه.»

انځورګرې له صابر وپوښتل: «ته پوهېږې چې هغه څنګه ولسمشر شو؟»

صابر ژر ځواب ورکړ: «زه څه پوهېږم.»

انځورګرې وویل: «هغه په ځان او خپلې وړتیا باور وکړ او خلکو په هغه باور وکړ. اوس ته هم په ځان باور وکړه، د روزنتون د ماشومانو په یوې خبرې خپله وړتیا په ځمکه مه غورځوه، ځان نور هم پیاوړی کړه او له دې موقع نه چې په لاس درغلې، ګټه واخله. زموږ ښار ته د سرو زرو مډال وګټه؛ داسې کار وکړه چې د بدن په غړو بشپړ خلکو نه وي کړی.»

صابر د انځورګرې له خبرو اغېزمن شو؛ داسې لکه چې تازه روح په کې پوه کړای شوې وي. پس له هغه نه، شپه او ورځ د نقشو په جوړولو اخته شو او ډېرې نقشې یې جوړې کړې. دوه اوونۍ تېرې شوې او د مسابقې ورځ را ورسېده. صابر له ښه چمتووالي سره د



مسابقې لپاره بل ښار ته لاړ.

په مسابقه کې هر چا خپلې ښې بېلابېلې وړتیاوې ښودلې. کله چې صابر ته وار را ورسېد نو لومړی د ټولو پام د ده پښو او بیا د مېز پر سر اېښودل شوي کوچني کور ته واوښت. صابر ورته خپله نقشه تشریح کړه او هر هغه څه چې د کور په جوړولو کې لازم برېښېدل، ورته په خپل جوړ کړي کوچني کور کې ور وښودل. نقشه د خلکو خوښه شوه.


ارزوونکي د ستېژ سر ته راغلل چې یو کس ګټونکی اعلان کړي، هر ګډون کوونکي دا دعا کوله چې خپله ګټونکی شي. د سیالۍ یو ارزونکی تر نورو لږ مخ ته ودرېد او ویې ویل: «د دې نړیوالې سیالۍ ګټونکی هغه ځوک دی چې پر خپل ځان او خپلو وړتیاوو باور د دې سیالۍ ګټونکی کړی دی. زموږ د دې سیالۍ ګټونکی هغه ځوک دی چې نهیلیو ته یې مخه نه ده ورکړې، دا ګټونکی هغه ځوک دی چې هم به زموږ لپاره او هم به په وجود کې د نیمګړو انسانانو لپاره د کار او زیار یوه بېلګه وي. دا ګټونکی د حیرانوونکي ښار اوسېدونکی صابر خان دی.»

چکچکې وشوې او شپېلکونه ووهل شول. صابر د همدې چکچکو او شپېلکیو په جوش کې چې یوه پیشۍ یې په غبږ کې ټینګه نیولې وه، دوو کسانو په خپل ویلچیر کې ستېج ته پورته کړ. ارزوونکي د هغه په غاړه کې د سرو زرو مډال واچاوه او ورته یې وویل چې خپل احساسات له نورو سره شریک کړي.

صابر چې مایک په لاس کې واخیست، بې اختیاره یې سترګې

اوښکې اوښکې شوې. په ژړېدونکې غږ یې وویل: «کله هم زما په فکر کې دا نه وو ګرځېدلی چې یوه ورځ به د کومې سیالۍ ګټونکی شم او په زرګونه خلک به راته چکچکې ووهي. ما هیڅکله دا فکر نه کاوه چې یوه ورځ به زما دومره درناوی کېږي؛ ځکه زه ټول عمر رټل شوی یم.»

ستونی یې غریو ونیو او په هماغه حالت کې ورو ورو لګیا شو: «کله چې وزېږېدم مور او پلار د دې لپاره چې په وجود نیمګړی یم په روغتون کې پرېښودلم، روغتون روزنتون ته وسپارلم؛ روزنتون هم له مجبوریت څخه ساتلم.



په روزنتون کې د خپلو ملګرو او خلکو چلند دا احساس راکاوه چې زه د دوی په شان نه یم او تل به نورو ته محتاج یم او هیڅکله به کوم کار نه شم کولی.»

هغه له خپل جیب نه څو جوړې کړې نقشې را و ایستې، په کتو کتو ورته موسک شو، هغه یې خلکو ته وښودلې او بیا یې وویل: «د نقشې جوړول مې د روزنتون په وخت کې پیل کړ. زما یو خیال و چې یو وخت د خپلې نقشې غوندې یو ښایسته کور ولرم او په هغه کې له کورنۍ سره ژوند وکړم. خو په روزنتون کې چا زما دې وړتیا ته ونه کتل.»

هغه خپلو پښو ته وکتل او یو سوړ اسویلی یې وکېښ: «زما نیمګړتوب زما ټولې هیلې او ارزوګانې نیمګړې ښودې او زه یې مایوسه کولم. کومې کورنۍ چې روزنتون ته د ماشوم د خوښولو لپاره راتلې، اول به یې زه خوښ کړم خو زما نیمګړتوب به د هغوی مخه ونیوله او زما پر ځای به یې بل ماشوم خوښ کړ. داسې څو ځلې په روزنتون کې ورټل شوم. اخر له روزنتون نه ووتم.»

صابر په خپل غېږ کې نیولې پیشۍ باندې په مینه لاس تېر کړ او ورغبرګه یې کړه: «له هغې ورځې وروسته مې دا پیشۍ ملګرې شوه، چې زه اوس پرته له دې پیشۍ چېرته نه ځم؛ دې پیشۍ زه یو داسې ځای ته بوتلم چې هلته یوه بېله دنیا وه، هلته زما له فکر نه دا خبره ورکه شوه چې زه نیمګړی یم؛ هلته زما د وړتیا قدر کېږي، هلته مې د ځان په څېر ډېر داسې کسان ولیدل چې ځان

ته یې یو شخصیت او شناخت درلود. د دې ښار اوسېدونکي داسې وړتیاوې لري چې روغ او بشپړ خلک یې نه لري.
زه د همدې پېښې په ملتیا حیرانوونکي ښار ته لاړم؛ هلته زما وړتیا وروزل شوه او د هغه ښار د مشر او د خپلې ملګرې انځورګرې په هڅوونو نن د دې سیالۍ یو ګډونوال یم.»
د صابر د ژوند د کیسې له اورېدو سره ټول ګډون کوونکي په ښو ودرېدل او په چکچکو یې پیل وکړ. له سیالۍ نه وروسته د صابر نوم په ورځپاڼو کې راغی او تصویرونه یې په ټلویزیونونو کې خپاره شول. د ژوند کیسه یې د هر چا د خولې کیسه شوه.
د ټلویزیون په هر چېنل کې د ده په اړه خبرې کېدلې او د ټلویزیوني خپرونو مېلمه کېده.
دی نور یوازې د صابر په نوم نه بلکې د کور ډېزانوونکي صابر په نوم یادېده. هر چا به ان له لرې ملکونو له ده سره د کور جوړولو په اړه اړیکې نیولې. له صابر نه یو ډېر لوی شخصیت جوړ شو. هر څوک به د ډیزاین د زده کړې لپاره مراجعه ورته کوله او ده به ورته د کور ډیزاینولو لکچرونه ورکول.
صابر همدلته پرېږدو او مور او تاسې د خوشحالیو مېنې ته سر ورښکاره کوو چې پوه شو د صابر مور او پلار په څه حال دي.
د خوشحالیو مېنه تر اوسه پورې هماغه ډول یخې پاتې ده. د صابر مور او پلار هماغسې یوازې دي. وخت هماغسې تم دی. شاه محمد او حمیدې له ډېرې پښېمانۍ سره شپې او ورځې تېروي او ډېر



کمزوري شوي دي. هغوی د صابر په اړه په خپلې پرېکړې پښېمانه دي. د صابر د شهرت ازانګې تر دوی پورې هم رسېدلې دي. شاه محمد په ورځپاڼه کې د صابر د ژوند خپره شوې کیسه په لوړ آواز خپلې مېرمنې ته لولي.

شاه محمد له کیسې خوند واخیست خو په زړه کې یوه پوښتنه هم ورپیدا کړه: که اوس موږ خپل ماشوم نه وای پرې ایښی، هغه به هم دا مډال ګټلی و.

حمیدې پرې غږ وکړ: «شاه محمده! د دغه ماشوم د ژوند کیسه کټ مټ لکه زموږ د ژوند د کیسې غوندې ده. دی هم په روغتون کې پرېښودل شوی او موږ هم خپل ماشوم په روغتون کې پرېښی و او د روغتون کسانو روزنتون ته سپارلی. په یاد دې دي کله چې تېر کال د

بیا ژوند روغتون ته لاړو، هغوی هم وویل چې زموږ ماشوم یې روزنتون ته سپارلی و. که دې خوښه وي راځه چې روزنتون ته لاړ شو. د خپل زوی کره پوښتنه ترې وکړو. هسې نه چې همدا صابر زموږ زوی وي.»

د حمیدې خبره د شاه محمد په زړه پرېوته خو ویې ویل: «فایده نه کوي، هېر دې دي، یو کال مخکې چې تللي وو، زوی مو په کې نه و.»

خو د حمیدې له ډېر ټینګار سره، هماغه شېبه دواړه روزنتون ته لاړل. کله چې روزنتون ته ورسېدل، د روزنتون مشر ورته وویل: «موږ خو تاسو ته هغه بل ځل هم وویل چې هغه ماشوم له روزنتون نه تللی او موږ ترې خبر نه یو چې چېرته دی.»

حمیدې ترې وپوښتل: «تاسو په هغه ماشوم نوم ایښی و؟»

د روزنتون مشر وویل: «هو! موږ پرې د صابر نوم ایښی و.»

د دې نوم له اورېدو سره شاه محمد په بېړه د خپلې کورتۍ له جیب نه ورځپاڼه راوکښله او په هغه کې یې د صابر خپور شوی انځور هغه ته ور وښود: «آیا همدا صابر دی؟»

مشر خپلې عینکې په سترګو کړې او په ځیر یې انځور ته وکتل او په لوړ غږ یې وویل: «هو! هو! همدا صابر دی، خو د ده انځور په ورځپاڼه کې څه کوي؟»

شاه محمد ور غبرګه کړه: «د صابر عکس ځکه په ورځپاڼه کې چاپ شوی چې د سرو زرو مډال یې ګټلی دی.»

شاه محمد او حمیده دواړه په ژړا ژړا له روزنتون نه ووتل او د حیرانوونکي ښار لاره یې خپله کړه. ډېرې شپې او ورځې یې مزل وکړ چې هغه ښار ته ورسېدل. د ښار د ښکلا په لیدو گوته په غاښ شول. ټول ښار په گلانو پوښل شوی و؛ کورونه خو بېخي په گلانو کې پټ وو. لکه د شاتو د مچۍ ځاله چې مچۍ ترې نه راتاوې وي، گلان له کورونو نه چاپېر وو.

حیرت یې شېبه په شېبه ځکه زیاتېده چې دوی پس له ډېرې مودې نه دومره ښکلی او سمسور ښار لیده. څومره به چې مخ ته تلل، ښکلاوې به لا ډېرېدې. کله چې دواړه کورونو ته ورنږدې شول، له خلکو نه یې د صابر پوښتنه وکړه. خلکو د صابر پته وښوده او دوی نور هم مخ پر وړاندې لاړل. کله چې د صابر کور ته ورسېدل، دورازه یې وټکوله.

لږه شېبه وروسته صابر دروازه خلاصه کړه. له سلام او روغبړ نه وروسته یې ترې وپوښتل: «وبخښئ ومې نه پېژندئ، څوک یاست؟»

د شاه محمد او حمیدې له خولې بې درکه چېغې ووتې؛ هغوی په گونډو ورته کښېناستل او دواړو په یو وار صابر په غېږ کې ونیو او په سلگو سلگو یې وژړل. صابر بیا ترې پوښتنه وکړه: «تاسې څوک یاست؟ څنگه مو داسې کلک په غېږ کې ونیولم؛ ما خو تر دې مخکې لیدلي نه یاست. ما څه پېژنئ؟»

شاه محمد په ژړا وویل: «ته زموږ اولاد یې. موږ ستا مور او پلار یو.»

د هغـه لـه دې خـبرې سره د صابـر خولـه وازه پاتـې شـوه. شـاه محمـد ورغبرگـه کـړه: «زویـه! لـه مـوږ دواړو یـوه ډېـره لویـه تېروتنـه شـوې چـې تـر ننـه پـورې یـې سـزا وینـو، هغـه مـوږ وو چـې د بیاژونـد پـه روغتـون کـې مـو پرېښـودې؛ فکـر مـو کاوه چـې سمه پرېکـړه مـو کـړې خـو وروسـته وپوهېـدو چـې مـوږ څومـره غټـه گنـاه کـړې ده.

تـه پوهېـږې کلـه چـې تـه مـو د بیـا ژونـد روغتـون کـې پرېښـودې او خپلـې مېنـې تـه سـتانه شـوو؛ د خوشـحالیو د مېنـې مـشره ونـه راتـه پـه غوسـه شـوه او ټـول ښـار یـې یخـی وگرځـاوه؛ آن دا چـې خلـک یـې هـم یخـی کـړل.

هغـه مېنـه چـې پـه ښـکلا کـې بیسـارې وه، اوس د یخیـو منظـره تـرې جـوړه ده.

وخـت پـه کـې تـم دی، یـوازې مـوږ دواړه پـه کې په خپـل حال پرېښـودل شـوي یـو چـې ټـول عمـر په څـور او کـړاو کـې تېـر کـړو او خپلـې تېروتنې تـه مـو پـام شي. هـر څـل چـې د خپلـې مېنـې خلکـو تـه گـورو څورېـږو. ځکـه هغـوی ټـول زمـوږ لـه لاسـه لـه دې بـد حالـت سره مـخ شـول.»

شـاه محمـد څوړنـد سر د صابـر مخـې تـه ودرېـد او وویـل: «تـه بـه چـې راپـه یادېـدې نـور هـم څورېـدو. دا اندېښـنه بـه راسره شـوه چـې تـه بـه چېرتـه یـې، لـه چـا سره بـه اوسـېږې، تـا ښـه سـاتي او کـه نـه؟ خـو کلـه چـې مـوږ پـه خپلـې غلطـۍ پـوه شـوو، وخـت ډېـر تېـر و. یـوه ورځ زه او مـور دې د بیاژونـد روغتـون تـه لاړو، سـتا پوښـتنه مـو وکـړه، هغـوی وویـل: «مـوږ هغـه ماشـومان چـې مـور او پـلار نـه لـري یـا یـې نـه سـاتي

روزنتون ته لېږو.» بیا روزنتون ته لاړو؛ خو له بده مرغه چې ته په هغه وخت روزنتون کې نه وې او مور بیا تش لاس کور ته راغلو. پس له هغه مو څو ځلې په روزنتون کې پوښتنه وکړه چې ګواکې ستون شوی به یې.

شاه محمد یوه اوږده ساه واخیسته او له خپل جېب نه یې هغه ورځپاڼه چې د صابر عکس په کې چاپ شوی و، صابر ته ورکړه او ویې ویل: «کله چې دا ورځپاڼه مو پیدا کړه، هغه مو له ځان سره روزنتون ته یووړه، د روزنتون مشر ته مو ستا عکس وښود، هغه چې ستا عکس ولید، ویې ویل چې دا ته یې. په ورځپاڼه کې مو د دې ښار نوم پیدا کړ او دا دی درپسې دلته راغلو.»

شاه محمد چې غلی شو، حمیدې څو ځلې سر په سر صابر پر سر او مخ ښکل کړ او ویې ویل: «زویه! دلته ځکه راغلي یو چې تا له ځان سره خپل کور ته یوسو؛ هیله کوو زموږ خبره ومنه او موږ سره لاړ شه، موږ اوس پخپل کار ډېر پښېمانه یو. ته زموږ زوی یې! موږ ته یوازې پرې ابښی وې خو ته مو یوازې مه پرېږده.»

د دوی خبرې چې خلاصې شوې، مخکې له دې چې صابر څه ووایي، هلته د حیرانوونکي ښار راټولو شویو خلکو په یوه خوله وویل: «تاسې هم ځان ته مور او پلار واياست، خپل اولاد مو یوازې پرېښود! پرته له دې چې فکر وکړئ دی به له چا سره او څنګه ژوند کوي، افسوس په تاسو.»

په دې ګړۍ کې پېښې د ښار مشر ته ټول احوال ورساوه او هغه

يـې ځـان سره راووسـت. کلـه چـې هغـه راغـی، خلکـو تـه يـې وويـل: «پـه دې مسـاله کـې ستاسـو کار نشـته. دا د صابـر او د هغـه د مـور او پـلار تـر منځ خـبره ده؛ ښـه بـه دا وي چـې صابـر پـه خپلـه پرېکـړه وکـړي.»

د ښـار مـشر ټـول خلـک خپلـو کـورو تـه ولېـږل او صابـر تـه يـې د ښـه فکـر کولـو مشـوره ورکـړه. صابـر پـس لـه ډېـر فکـر نـه دا پرېکـړه وکـړه چـې لـه خپـل مـور او پـلار سره لاړ شي. د حيرانوونکـي ښـار خلکـو تـه يـې غـږ وکـړ. هغـوی چـې راغلـل ورتـه يـې وويـل: «مـا چـې د کـور کومه نقشـه د لومـړي ځـل لپـاره جـوړه کـړې وه، هغـه زمـا يـوه هيلـه وه چـې زه هغسـې يـو کـور ولـرم او پـه هغـه کـې لـه خپـل مـور او پـلار سره ژونـد وکـړم، نـن هـم هغـه نقشـه زمـا پـه مغـزو کـې شـته. نـو زه غـواړم هغـه هيلـه مـې پـوره کـړم او لـه خپـل مـور او پـلار سره ژونـد وکـړم او پخوانـۍ خـبرې هېـرې کـړم.»

لـه دې سره يـې مـور او پـلار تـه ټينګـه غېـږه ورکـړه. خلکـو ورتـه لـه ډېـرې خوشـحالۍ چکچکـې وکـړې. کلـه چـې د حيرانوونکـي ښـار لـه خلکـو سره يـې مخـه ښـه وکـړه، خپلـې پيشـۍ تـه يـې چـې د هغـه تـر څنـګ ناسـته وه، وويـل: «تـه بـه لـه مـا سره زمـا کـور تـه ځـې، ځکـه تـه زمـا تـر ټولـو ډېـر ښـه ملګـرې او زمـا د نېکمرغيـو اصلـي سـبب يـې.»

د پيشۍ سترګې وځلېدې: «وه د خدای نېک بخته! ته هم زما ډېر ښه ملګری يې؛ مګر زه له تا سره نه شم تللی ځکه زه بايد دې حيرانوونکي ښار ته نور داسې ماشومان راولم چې لکه تا غوندې په کې خپله وړتيا وروزي



او پر ځان باور زده کړي او د ټولنې خلک يې لکه د نورو روغو کسانو غوندې ومني؛ خو ستا ملګرتيا او خبرې به تل زما په ياد وي.»

صابر انځورګرې ته ځير شو، چې د وره ترشنګه غلې ولاړه ده او په اوښلنو سترګو ورته ګوري. له خپل ويلچير سره د هغې خوا ته لاړ او ورته يې وويل: «له تا ډېره مننه کوم. ستا کړې کيسې ما ته زما د ژوند لاره وښودله او پر ځان باور يې را زده کړ.»

انځورګرې ورته وويل: «ما داسې څه نه دي کړي چې ته رانه مننه وکړې. خپل مور او پلار سره لاړ شه، زه درته خوشحاله ژوند غواړم.»

له دې سره صابر له پلار او مور سره د حيرانوونکي ښار له

دروازې ووت او د خوشحالیو مېنې په لور روان شو.

همدا چې صابر له خپل ویلچیر سره د خوشحالیو مېنې ته ننوت، ټوله مېنه سمدستي زرغونه شوه، ونې یې ټولې تکې شنې شوې، بوټي ټول وغوړېدل، خلک ټول عادي حالت ته راغلل، مرغانو په سندرو پیل وکړ، ګلانو خپلې پاڼې پرې وشیندلې او ویې ویل: «موږ د خپلې مېنې دوه سوم کس ته ښه راغلاست وایو، ښه راغلې.»

څومره چې صابر دوی خپل کور ته نږدې کېدل، هغومره به په تېزۍ د مېنې ښکلا زیاتېدله. دا هماغسې یوه مېنه وه چې صابر په کې د اوسېدو هیله درلوده.

له هغې ورځې وروسته د خوشحالیو مېنه بېرته سمسوره شوه. په وخت کې ساه وغړېده او صابر له شاه محمد او حمیدې سره خوشحاله ژوند پیل کړ.

خو صابر یوازې په دې خوشحالۍ قناعت ونه کړ. پوهېږئ، هغه څه وکړ؟ هو، سم فکر مو کړی، هغه له نیمګړو ماشومانو سره د مرستې لپاره په څو ورځو کې د نیمګړو ماشومانو د وړتیا د روزلو بنسټ جوړ کړ. ځکه هغه دا هیله لرله چې څوک دې نیمګړو ماشومانو ته په کمه سترګه ونه ګوري.

# پای

## د توانا نوي چاپونې



# د توانا لومړۍ جشنوارې کتابونه

